**د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د ۱۴۰۱لمریز کال د ترسره شویو کړنو اوفعالیتونو لنډ راپور**

دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت، د خپل ورسپارل شوي مسؤلیت او د اسلامي امارت د مشرتابه او د رئیس الوزراء له هدایاتو او لارښوونو سره سم ویاړي چې د وزارت په کړنو کې د شفافیت پراساس د پلان سره سمي او له پلان پرته د یوه تیر مالي کال په لړکې ترسره شوي فعالیتونه اولاسته راوړنې شریکې کړي.

- د افغانستان د اسلامي امارت د موخو د پلي کولو لپاره د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له پالیسی سره سم د مرکز کابل په شمول ۳۴ ولایتونو کې جرګې جوړې شوي دي.
- ۴۹۰ قبایلي کارګرانو او زده کوونکو ته قبایلي پیژند کارتونه وېشل شوي دي.
- په مرکز کې د (۳۴) ولایتونو ۱۲۲۵ علمای کرام او روحانیون ثبت او راجستر شوي دي.
- قومونو ته د ټولګټو خدمتونو وړاندې کولو او ملي مسایلو کې د هغوی د همغږی کولو په موخه (۲۵) نوې قومي شورا ګانې ثبت او راجستر شوي دي.
- په پښتو ژبه جرګه مجله ۸۰۰۰ تېراژه ، په دوو ملي او نهه (۹) محلي ژبو د هموطن مجلې ۶۰۰۰ تېراژه چاپ، دهېواد په مرکز او ولایتونو کې وړیا وېشل شوې ده.
- ۶۷۰ بېلابېل مطلبونه لکه خبرونه،راپورونه، ټویټونه، مطبوعاتي اعلامېې او د قراردادونو خبرتیاوې د وزارت د رسمي ویب پاڼې او فیسبوک پاڼې له لارې خپاره شوي دي.
- د افغانستان د سرحدي ولایتونو د ځنګلونو په اړه څېړنې ترسره شوې دي.
- د افغانستان د شمالي پولو په اړه څېړنې ترسره شوې دي.
- د ولایتونو پیژندیال یا پروفایل ترتیب او تنظیم شوی دی.
- د اسلامي نظام په استحکام کې د علمای کرامو د ونډې په اړه څېړنه ترسره شوې ده.
- د اسلام مقدس دین په رڼا کې د ښځو د حقوقو څېړنه ترسره شوې ده.
- له (۳۳) ولایتي دفترونو څخه (1920) قطعې راپورونه ترلاسه، توحید، ترتیب اوله تنظیم وروسته د وزارت اړونده ریاستونو ته استول شوي دي.
- په 33 ولایتونوکي د سرحدونو، قومونو او قبایلو چاروورارت اړوند ریاستونو او آمریتونو ته له ولایتونو څخه د زده کوونکود جلب او جذب طرزالعمل لیږل شوی دی.
- په ۳۳ ولایتونو کې د سرحدونو،قومونو او قبایلو چارو وزارت ټولو دویمي واحدونو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله (7) قطعې فرمانونه، (3) قطعې حکمونه او (2) هدایتونه استول شوي دي.

- په ولایتونو کې د سرحدونو، ق ومونو او قبایلو چارو وزارت ټولو دوېمي واحدونو ته د رئیس الوزراء (37) مصوبې او (10) قطعي حکمونه، لیږل شوي دي.
- د هېواد له ۳۳ ولایتونو څخه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د دوېمي واحدونوله خوا رالیږل شوي (273) وړاندیزونه د وزارت مقام د حکم له اخیستو وروسته د اجرااتو او تطبیق په موخه بېرته اړوندو ادارو ته استول شوي دي.
- د بلخ ولایت شورتېپې او کلدار ولسوالیو، د جوزجان ولایت قرقین او دوکوه ولسوالیو، د کندز ولایت د قلعه ذال او دشت ارچي ولسوالیو او د بدخشان ولایت په اشکاشم او واخان ولسوالیو کې له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډې پولې په اوږدو کې د سرحدي نښو نښانو، صفري نقطو، سرحدي سرغړونو، د تګ راتګ غیر قانوني لارو او سیندونو د ویجاړیو څخه بررسي ترسره شوې ده.
- له ایران، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان او چین هېوادونو سره پر ګډه پوله د سرحدونو د څېړنې عالي کمیسیون په چوکاټ کې د افغانستان اسلامي امارت لوړ مقام له حکم سره سم د سرحدي نښو نښانو د مدرنیزاسیون طرحه پلې شوې ده.
- د کوچیانو د عمومي ریاست پراختیایي ستراتیژۍ جوړه او د هغې له مخې عملیاتي پلانونه جوړ شوي دي.
- د کوچیانو چارو د انسجام عمومي ریاست په ډیټابیس کې د (۸) ولایتونو د کوچیانو څړځایونه ثبت شوي دي.
- په مرکز او ولایتونو کې کوچیانو ته د الکترونیکي پېژند پاڼو د ویش په موخه د احصایي او مالوماتو له ادارې سره د ګرځنده ټیمونو د جوړولو په هکله خبرې ترسره او همغږي را منځته شوې ده.
- د کوچیانو د ستونزو د حل او هغوی ته د مرستې جلبولو په موخه له کورنیو اوبهرنیو مؤسسو سره دولس غونډې جوړې شوې دي.
- په مرکز او ولاتونو کې د کوچیانو څارویو ته د وترنري خدمتونو د وړاندې کولو، واکسین تطبیقولو او د چینجیو ضد درملو د ورکړې له بهیر څخه څارنه شوې ده.
- د کوچیانو لپاره په ولایتونو کې د ګرځنده او ثابتو روغتیایي کلینیکونو د خدمتونو له څرنګوالي څخه څارنه او ارزونه شوې ده.
- د تایمني مېلمستون ودانۍ د ترمیمولو چارې نوي سلنه پرمخ تللې دي.
- د بایزید روښان انسټېټوټ د تدریسي ودانۍ د ترمیمولو چارې شپېته سلنه پرمخ تللې دي.
- د وزارت لپاره ډیټا سنټر( د مالوماتو مرکز) پالیسي جوړه شوې ده.

- د پلان او پالیسی ریاست MIS مالوماتي سیستمونه د Web basedپه بنه جوړ شوي دي.

دا وې په تېر کال کې د وزارت لاسته راوړنې چې له تاسو سره شرېکې شوې.